# مصطفیٰ کمال اتا ترک

مصطفیٰ کمال اتا ترک د ترکي وړومبے صدر وۀ. هغوي ترکي په کال ۱۹۲۳ کښې يو جمهوري رياست جوړ کړے وۀ. اتا ترک د دوي کنيت وۀ کوم چې ورله د ترکي پارلېمان ورکړے وۀ.

مصطفیٰ کمال په ۱۸۸۱ کښې په سلونيکه کښې زيږېدلے وۀ. دا ښار يو يوناني بندرګاه وو. کوم چې په کال ۱۴۳۰ کښې د ترکي عثماني سلطنت فتح کړۀ او سلونيکه نامه ئې ورله ورکړه. ۱۹۱۲ کښې يونان دا واپس واخستۀ او خپله يوناني نامه تهيسيل اونيکي ئې ورله بحال کړه.

مصطفیٰ چې کله د اووۀ کالو شۀ نو پلار ئې وفات شۀ. مور ئې دے په يوه ديني مدرسه کښې واچوۀ. خو څه موده پس دوي په يو دنياوي سکول کښې داخل شو. د هغې نه د فارغېدو نه پس په فوځي سکول کښې داخل شۀ. دلته ئې کارکردګي ډېره ښه وۀ، تر دې حده چې د حساب استاذ ددۀ د قابليت نه دومره متاثره شۀ چې دۀ له ئې د کمال لقب ورکړۀ. دا لقب د مصطفیٰ کمال په شکل ټول عمر د دوي سره وتړلے شۀ.

فوځي هائي سکول کښې د سبق پوره کولو نه پس دوي په استنبول ( د هغې وخت صدر مقام ) کښې موجودې فوځي اکېډمی کښې داخله واخستله. په اخر کښې په سټاف کالج کښې ئې خپل ټول تعليم او فوځي تربيت مکمل کړۀ.

په خپله فوځي پيشه کښې مصطفیٰ ډېر عزت او شهرت وګټلو. د هغې نه علاوه ئې په يو څو سياسي تحريکونو کښې هم برخه واخسته. په هغې کښې د يو نامه "نوجوانان ترک انقلاب " وۀ. دې تحريک د عثماني باچا عبدالحميد دوم د حکومت نه لاس په وينځلو مجبوره کړۀ. د کوم نه پس چې د هغه ورور د هغه ځائے واخستۀ.

وړومبے عالمي جنګ په کال ۱۹۱۴ کښې شروع شۀ او څلورو کالو پورې جاري وۀ. ترکي په دې جنګ کښې د مرکزي طاقتونو لکه جرمني، استريليا، هنګري، آستريا او بلغاريه ملا تړ وکړۀ. بل طرف ته اتحادي ملکونه وو لکه فرانس، برطانيه، روس او اټلي. مرکزي طاقتونو وبائيلله او اتحادي ملکونو ګټه تر لاسه کړه.

د بیلات نه پس عثماني سلطنت دومره کمزورے وۀ چې کله اتحادیانو په خاصه توګه برطانیې او فرانس د ترکي د تقسیمولو او قبضه کولو منصوبه جوړه کړه خو دوي پاتې راغلل.

څکه چې مصطفیٰ کمال په دغه وخت کښې د قومي تحریک مشر وۀ، د ترکي د آزادۍ د جنګ په وسیله ئې د اتحادیانو منصوبه ناکامه کړه. او په ۱۹۲۲ کښې ئې د عثماني سلطنت خاتمه وکړه.

۱۹۲۳ کښې د ترکي نوي سرحدونه ، خپلواکي او جمهوریت تسلیم کړے شو، او نوے صدر مقام ئې انقره او وړومبے صدر ئې مصطفیٰ کمال مقرر شول.

مصطفیٰ کمال په نوې څوکۍ کېناستو سره د اصلاحي کارونو پرانسته وکړه. د ده پخه اراده وه چې د ترکي نه د غربت او د تعلیمي کمي خاتمه وکړي. ښځو له به د هغوي بنیادي حقونه ورکولے شي او ترکي د دنیا د ترقي یافته ملکونو په قطار کښې ودرول وو. نو د دې دپاره ئې په ملک کښې په زرګونو سکولونه جوړ کړه، په کوم کښې چې هر ترکي هلک او جینۍ له تعلیم مفت او لازمي وۀ. (دې ګامونو اوچتولو نه اول د ترکي د خواندګۍ شرح ۱۰٪ وۀ، او په کلو کښې د دې نه هم کمه وۀ او د ښځو تعلیم د صفر فیصد نه لږ شاني زیات وۀ).

ترکي ژبه په دغه زمانه کښې په عربۍ رسم الخط کښې لیکلې کېده. مصطفیٰ کمال په کال ۱۹۲۸ کښې د عربۍ په ځائے د لاطیني رسم الخط کښې د لیکلو شروعات وکړه. ( په کوم کښې چې د انګریزي او د یورپ نورې ژبې لیکلې کېدے).

د لیکلار بدلولو وجوهات دا وو،

۱. په ترکي ژبې کښې بلها داسې اوازونه وو کوم چې په عربۍ لیکدود کښې لیکل ګران وو او په لاطیني ژبې کښې اسان وو.

۲. په لاطیني کښې لیکلې ترکي د ترکیانو دپاره لوستل او زده کول اسان وو.

۳. مصطفیٰ کمال غوښتل چې ترکي د یورپ هغې ملکونو ته نېژدے شي کوم چې په نوو علمونو کښې مخ په ترقۍ روان وو او د چا په ژبو کښې چې دا علمونه لګیا وو خوندي کېدل.

په ترکي کښې بلها مدرسې وې، مصطفیٰ کمال په هغې کښې زیات تر بندې کړې. یو څو چې پاتې شوې هغه وې په کومو کښې چې سبقیان د جومات امامان جوړېدے شول.

د لاطیني رسم الخط متعارف کولو فائده دا وشوه چې په ترکي د خواند ګۍ شرح په تېزۍ ډېره شوه. عن تر دې چې په لسو کالو کښې د ۱۰ نه ٪ ۳۰ ته لاړه.

۲۰۲۵ کښې د څو ملکونو د خواند ګۍ شرح:

ترکي ۹۷٪

ایران ۹۱٪

افغانستان ۴۳٪

بنګله دېش ۷۵٪

انډیا ۶۶٪

پاکستان ۶۰٪

مصطفیٰ کمال په خپل ملک کښې د خواند ګۍ د شرحې زیاتولو دومره خواهش مند وۀ چې پخپله به څو سکولونو ته لاړۀ او هلته به ئې وړو ته لاطیني رسم الخط په خپله ښودلو. د هغوي مشاهده وۀ چې واړه لاطیني رسم الخط د عربۍ د هغې نه زر رده کولے شي. ښځې په سبق کښې د سړو نه شاته وې. نو د دې دپاره مصطفیٰ کمال د زلمو او د جینکو په هېړ د تعلیم په حق کښې وۀ.

څکه چې هغه د ښځو او د سړو په برابرۍ یقین لرونکے وۀ. هغوي د وراثت او د طلاق زاړه قوانین ختم کړه او ښځو له ئې د سړو سره برابري ورکړه. او دغسې ئې ښځو له په سیاست کښې هم برابري ورکړه. او په کال ۱۹۳۴ کښې ترکو ښځو له د ووټ حق ورکړے شۀ، تر دغه وخته د یورپ په ډېرو ملکونو کښې ښځو ته لا دا حق نه وو ورکړے شوے.

په کال ۱۹۳۴ کښې په ترکي کښې یو نوے قانون رواج شۀ. او هغه دا وۀ چې د هر ترک کس به یو کنیت (خانداني نوم) هم وي. ترک پارلیمان مصطفیٰ کمال له اتا ترک کنیت ورکړۀ، د کوم مطلب چې دے د ترکیانو پلار . هغه خپل ملک د ذهني، علمي او معاشي وروسته پاتې کېدو نه بچ کړۀ او د روشن خیالۍ دنیا ته ئې راوستلو. سامراجي طاقتونو د ترکي د ماتولو کوششونه ئې ناکامه کړه او ترکیانو له یې یو آزاد جمهوري ملک کښې د اوسېدو اعزاز ورکړۀ. د دې نه علاوه ئې کتابونه لیکلي او د شپې نا وخته پورې به په لیک لوست کښې مشغوله وۀ.

د اتـا تـرک مـرګ نسـبتاً پـه کـم عمـرۍ کښـې شـوے وۀ، يعنـي د ۵۷ کالـه عمـر کښـې. خـو پـه دې لـږ وخت کښې ئې د يو ملک او د هغې وسېدونکو  قسمت بدل کړۀ

**ليک: آمنه اظفر**

**ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے**